د افغانستان اسلامي امارت

د کورنیو چارو وزارت

د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې معينيت

ملکي معاونيت

د نشه يي توکو د سروې او تحليل رياست

# د کوکنارو د کښت د کليو د سروې تحليلي راپور

# په ۱۴۰۲ هجري لمريز کال کې

چاپ کال : ۱۴۴۵ هـ ق ( ۱۴۰۲ هـ ش )




**الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين**
**وعلى اله و اصحابه اجمعين**

بسم الله الرحمن الرحیم

## په هیواد کې د کوکنارو د کښت د ممنوعیت په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله

# فرمان

ټولو هیوادوالو ته خبر ورکول کیږي چې د دغه فرمان د صدور د نیټې څخه وروسته په افغانستان کې د کوکنارو کښت په مطلق ډول ممنوع دی، تردې وروسته به هیڅوک پر خپلو مځکو باندې کوکنار نه کري، که هر چا کوکنار وکرل نو کښت به یې له مینځه وړل کیږي او په خپله به د شرعي چلند سره مخ کیږي.

همدارنګه په ټول هیواد کې د نشې موادو د ټولو ډولونو؛ لکه: شراب، هیرویین، شیشه، ټابلیټ کا، چرس او د نورو ټولو نشه کوونکو شیانو استعمال، انتقال، خرڅلاو، تجارت، واردات، او صادرات او د نشې توکو د تولید کارخانې ممنوع دي.

که هر چا د دغه فرمان د حکمونو څخه سرغړونه وکړه، د اسلامي امارت عدلي او قضائی ارګانونو ته به معرفي کیږي او د سخت مجازات سره به مخ کیږي.

والسلام

د اسلامی امارت مشر تابه مقام

د فرمان شمیره: .... (۳۱)

نیټه: ............... ۱٤٤۳/۹/٤

**مننه کوو:**

د افغانستان د اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت او له نشه يي توکو سره د مبارزې معینیت محترم رهبري چې د نشه يي توکو د سروې او تحلیل له ریاست سره یې د دې سروې په پلي کولو کې هر اړخیزه مرسته کړې ده.

د مرکز، ولایتونو او ولسوالیو له امنیتي چارواکو څخه چې د دغې سروې د تطبیق پر مهال یې د ساحوي کار د امنیت د تامین په برخه کې هر اړخیزې هلې ځلې کړې دي، له نېکه مرغه د دې سروې د تطبیق پر مهال کومه امنیتي ستونزه نه ده رامنځته شوې او ساحوي کارونه په بشپړ ډول په ټاکل شوي وخت په تخنیکي ډول او د امنیت له پلوه په ښه توګه ترسره شوي دي.

د ولایتونو د سروې د مدیرانو څخه چې په ولایتونو کې ټول کال په کار بوخت وي، د کلیو د ملکانو، د جوماتونو د ملاامامانو او بزګرانو څخه چې د هیواد د کلیو ساحوي معلومات یې د مرکو له لارې له سروې کوونکو سره شریک کړي دي.

د ساحوي سروې، تحلیل او جغرافیايي معلوماتو دآمریتونو د کارمندانوڅخه چې د دې سروې د تطبیق، څارنې، په بانک کې د معلوماتو داخلول، د ارقامو کتل او سمول، د نقشو ترتیب، د محاسبوي جدولونو ترتیب، د ګرافونو جوړول، د ارقامو تحلیل او په ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کې د کوکنارو د کښت د کلیو د سروې د تحلیلي راپور د ترتیب په برخه کې ډیرې هڅې کړي دي.

او همدا راز مننه کوو د کورنیو چارو وزارت د ټولو مسئولینو څخه چې د دغه سروې د طرحې په ډیزاین، اصلاح او بیا کتنه کښې یې زیار ایستلی دی او د هغو مسئولینو څخه هم چې د دغه سروې په مالي او بودجوي چارو کې یې د پام وړ همکاري کړې ده په تېره بیا د پالیسۍ او استراتیژۍ د معینیت د محترم معاونیت څخه چې د یادې سروې د طرحې په بیا کتنې او ډیزاین کې زیاته همکاري کړې ده.

**یادونه**

**د دی راپور د ارقامو سرچینه د نشه يي توکو د سروې او تحلیل ریاست دی، د دغه راپور په اړه هرې پوښتنې ته به د نشه يي توکو د سروی او تحلیل ریاست له خوا ځواب ورکول کیږی؛ ځکه چې ټول اسناد د دي ریاست په معلوماتی بانک (ډیټابیس) کې په مستند ډول شتون لری.**

| د مطالبو لړلیک | صفحه |
|---|---|


د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې محترم معين الحاج لوی پاسوال ملا عبدالحق آخند همکار پيغام: ........ ۱
کليدي موندني ........ ۲
ميتودلوژي/ کړنلاره........ ۳
**لومړۍ برخه:** د کروندګرو له نظره د کوکنارو کښت او هغه عوامل چې د کوکنارو کښت په زياتوالي او کمښت اغيزه کوی........ ۵
۱-۱ په ۱۴۰۲ هجری لمريز کال کې د هيواد په کچه د کوکنارو کښت: ........ ۶
۱-۲ سويل زون:........ ۸
۱-۳شمال ختيځ زون:........ ۸
۱-٤ شمال زون:........ ۸
۱-٥ لويديځ زون: ........ ۸
۱-٦ ختيځ زون:........ ۸
۱-۷ مرکز زون: ........ ۸
۱-۷ د کوکنارو د کښت لپاره د پيشکي پيسو ويشل او نه ويشل:........ ۱٤
۱-۸ د کورنيو لخوا د مشروع او غير مشروع بوټو د کرلو په اړه نظر پوښتنه:........ ۱٥
۱-۹ د يو جريب کوکنارو د کښت لګښت په افغانيو: ........ ۱٥
۱-۱۰ د يو جريب غنمو د کښت لګښت په افغانيو: ........ ۱٦
۱-۱۱ د بزګرانو لپاره د کرني، مالدارۍ او باغدارۍ په برخه کې د مرستو د بهير څرنګوالي:........ ۱۷
۱-۱۲ د افغانستان په سطحه د ترياکو او مشروع نباتاتو اوسط نرخونه د يو او بل په پرتله: ........ ۱۸
۱-۱۳ په کليو کې د کوکنارو د کښت د مخنيوي لپاره د برنامو په لاره اچول: ........ ۱۹
**دويمه برخه:** روږديتوب او د هغه عوامل ........ ۲۱
۲-۱ په نشه يي توکو روږديتوب او د هغه عوامل:........ ۲۲
الف) ټولنيز عوامل:........ ۲۲
ب) کورني عوامل: ........ ۲۲
ج) له اقتصادي هوسايني سره بيکاري:........ ۲۲
د) اقتصادي هوسايني:........ ۲۲
**د ريمه برخه:** ټولنيز مسايل........ ۲٥
۳-۱ټولنيز وضعيت:........ ۲٦
۳-۲ د بې وزلو، کونډو، يتيمانو او په نشه يي توکو د روږدو کسانو ارقام: ........ ۲٦
۳-۳ په کليو کې د روغتيا سکتور ارقام:........ ۲٦
۳-٤ د کليو امنيتي وضعيت د تير کال او تير رژيم په پرتله:........ ۲٦
**څلورمه برخه:** اقتصادي مسايل........ ۲۹
٤-۱ په افغانستان کې د کليوالو کورنيو د عوايدو سرچيني:........ ۳۰
٤-۲د يوه هکتار کوکنارو او غنمو حاصل د يو او بل په پرتله:........ ۳۲
٤-۳ مالداري:........ ۳٥
وړانديزونه: ........ ۳٦
(پايلی)........ ۳۷

## د جدولونو لړلیک — صفحه


۱ جدول: په ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کې د هیواد په کچه د کوکنارو د کښت د شپږو زونونو ارقام ........ ۷
۲ جدول: د کوکنارو د کښت لپاره د پیشکي پیسو ویشل او نه ویشل ........ ۱٤
۳ جدول: د افغانستان په کچه د غنمو د کښت اوسط لګښت د هر جریب په افغانیو ........ ۱٦
۴ جدول: د تریاکو او زعفرانو د بیو مقایسه ........ ۱۸
۵ جدول: د کوکنارو د نه کرلو عوامل د هغو بزګرانو له نظره چې کوکنار یې ندي کرلي ........ ۱۸
۶ جدول: د روږدو کسانو روغتیایي حالت ........ ۲۳
۷ جدول: په هیواد کې د کلیوالو کورنیو د عایداتو سرچېنې ........ ۳۰
۸ جدول: په هیواد کې د کلیوالو کورنیو د سړي سر اوسط عاید ........ ۳۱
۹ جدول: د یوه هکتار کوکنارو او غنمو د کښت اوسط حاصل د هیواد د مختلفو زونونو لخوا په کال ۱۴۰۲ هـ-ش کې ........ ۳۲
۱۰ جدول: وړاندېزونه ........ ۳٦


## د شکلونو او نقشو لړلیک — صفحه


۱ شکل: په ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کې د هیواد د ولایتونو په کچه د کوکنارو د کښت سلنه ........ ۹
۲ شکل: د (۲۰۰۱ او۲۰۲۳) میلادی کلونو ترمنځ د کوکنارو د کښت په اړه د افغانستان د اسلامي امارت د لومړي او دویم فرمان اغیزې ........ ۱۰
۳ شکل: په (۲۰۰۱ او ۲۰۲۳) کلونو کې د تریاکو د تولید پر بهیر د افغانستان د اسلامي امارت د لومړي او دویم فرمان اغیزې ........ ۱۱
نقشه ۱: د هیواد د ولایتونو په کچه د کوکنارو کښت په هکتار ........ ۱۲
۴ شکل: د کوکنارو د کرلو لاملونه د کوکنارو د کروندګرو له نظره ........ ۱۳
۵ شکل: د تریاکو د عوایدو د لګښتونو لومړیتوبونه ........ ۱٤
۶ شکل: د هیواد د کلیو په کچه د مشروع، غیر مشروع بوټو کښت او د باغدارۍ سلنه ........ ۱۵
۷ شکل: د کوکنارو د کښت دهرې مرحلې د لګښت سلنه ........ ۱٦
۸ شکل: د کرنې، باغدارۍ او مالدارۍ سکتور څخه د ګټه اخیستونکو کروندګرو ارقام ........ ۱۷
۹ شکل: د کوکنارو د کښت د مخنیوي د برنامو د تطبیق سلنه ........ ۱۹
۱۰ شکل: د کوکنارو د کښت د مخنیوی په اړه د خلکو د پوهاوي د ترلاسه کولو لارې چارې ........ ۲۰
۱۱ شکل: د نشه يي توکو د استفاده کوونکو سلنه ........ ۲۳
۱۲ شکل: په کلیو کې د پوهنې سکتور ارقام ........ ۲۷
۱۳ شکل: د کوکنارو او مشروع نباتاتو په کروندو کې د کارګرانو ورځنی معاش د یو او بل په پرتله ........ ۳۱
۱۴ شکل: د یو هکتار کوکنارو او غنمو حاصل د یو او بل په پرتله ........ ۳۳
نقشه ۲: د هیواد د زونونو په کچه د کوکنارو او غنمو د کښت حاصلات او عواید په هر هکتار ........ ۳٤
۱۵ شکل: د څارویو د برخی د ارقامو سلنه ........ ۳۵

## سر لیک

نشه يي توکي د ديني او علمي اړخه کاملاً یوه مضره پدیده ده، چې الله تعالی يې د خطرونو څخه ۱۴۰۰ کاله مخکې د نړۍ ټول انسانان خبر کړي دي.

په همدې اساس د افغانستان اسلامي امارت د یوه اسلامي نظام په توګه د کوکنارو د کښت او تولید او له هر ډول نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د جمهوري اداري په پرتله ډیر جدي عمل کړی دی. لکه څنګه چې د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ لوړ مقام ( د کوکنارو او چرسو کښت، قاچاق، تولید، پیر، پلور او استعمال) په اړه د منع فرمان صادر کړی او له دې پدیدې سره يې د هر اړخیزې مبارزې اعلان کړی دی.

د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ لوړ مقام په فرمان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د اړوندو ادارو او په ځانګړې توګه د کورنیو چارو وزارت مسؤلیتونه زیات شوي دي.

مسؤلې اداري مکلفې دي چې د دغه فرمان په تطبیق سره په ټول هیواد کې د کوکنارو د کښت مخه ونیسي او په اړه يې پراخ کمپاینونه ترسره کړي. نوځکه، د نشه يي توکو او په تېره بیا د کوکنارو په اړه د سروې ترسره کول زیات اړین وو.

د کوکنارو د کښت سروې له ۲۰۰۵ کال څخه تر ۲۰۱۸ کال پورې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت له خوا د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې د دفتر (UNODC) په همکارۍ ترسره شوې تر ټولو مهمه سروې ده خو دا سروې په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې په دقیقه توګه نه وه ترسره شوې.

د جمهوریت تر سقوط او د افغانستان د اسلامي امارت د واکمنۍ له بیا پیل سره سم له نشه يي توکو سره د مبارزې معینیت له لوري د دې سروې( د کوکنارو د کښت د کلیو سروې) او د نشه يي توکو په اړه نورې سروې هم په خپلواکه توګه د دغې ادارې د سروې او تحلیل ریاست د مسلکي او تخنیکي ظرفیتونو په مرسته ترسره کیږي.

په ۱۴۰۲ هجرى لمریز کال کې د هیواد په ۳۴ ولایتونو، ۳۵۸ ولسوالیو او ۱۷۹۵ کلیو کې له لږو امنیتي ستونزو او محدودیتونو پرته ترسره شوه، چې په تیرو شلو کلونو کې شايي دا د ملي او کورنیو ځانګړتیاؤ سره په ساحه کې تر ټولو غوره سروې وي.

د کوکنارو د کښت لومړنۍ سروې چې په هیواد کې د کوکنارو تر کښت لاندې ساحو کې د وضعیت او کره ارقامو د موندلو په هدف ترسره شوې وه، په دغه سروې کې له دریو اړوند بنسټیزو برخو سره، چې پکې د کلي ملک، د جومات ملا امام، هغه کروندګر چې کوکنار يې کرلي او هغه کروندګر چې کوکنار يې ندي کرلي ورسره مرکې ترسره شوې.

په افغانستان کې د کوکنارو تر کښت لاندې د ټولو ساحو د راپور په دوام، هغه ولایتونه چې پکې کوکنار ندي کرل شوي، د کوکنارو د کښت او نه کښت لاملونه، د نشه يي توکو د زیانونو په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونه، د کوکنارو پر کښت باندې د کروندګرو اقتصادي انحصار، د هغو کورنیو د سړي سر عاید اندازه چې کوکنار کري او د هغو کورنیو د سړي سر عاید اندازه چې کوکنار نه کري پرتله کول او د بدیل کښت لپاره د خلکو او کروندګرو وړاندېزونه د هیواد په کچه وړاندې شوي .

## د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د مبارزی محترم معین الحاج لوی پاسوال ملا عبدالحق آخند همکار پیغام:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ.

**ګرانو هیوادوالو!**

د قرانکریم د لارښوونو او د بشر د ستر لارښود حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د احادیثو له مخې هر هغه څه چې د انسان عقل تخریبوي او د هغه له فکري او رواني ازادۍ څخه یې برخې کوي، مطلق حرام دي.

همدارنګه د عالیقدر امیر المومنین حفظه الله په پیغام کې واضح ده چې د نشه يي توکو د هر ډول کښت، تولید، قاچاق، پروسس او د هغې د کیمیاوی موادو مخنیوی دې په جدی توګه وشي، عاملین دې ونیول شي او د قانون منګولو ته دې وسپارل شي. په افغانستان کې هیڅوک دا حق نه لري چې د نشه يي توکو او د هغوی د طبیعي او صنعتي مشتقاتو غیر قانوني استعمال ته وده ورکړي او غیر قانوني استخراج وکړي.

د افغانستان د اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت د یوې عملیاتي او تخنیکي ادارې په توګه له دغې پدیدې سره د مبارزې او د بشریت د دښمنانو د ناروا سوداګرۍ او کښت په ډګر کې د هر ډول فعالیت د له منځه وړلو لپاره له هیڅ ډول هڅو څخه دریغ نه کوي او الحمدلله دغو څواکونو د پام وړ لاسته راوړنې لرلې دي. چې په نړیواله کچه انعکاس شوي او دغه کړنې د هغو هېوادونو او سازمانونو له خوا چې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې کار کوي د افغانستان اسلامي امارت د ستاینې او منني لامل شوی دی.

موږ دا لاسته راوړنې د خپل ولس په همکارۍ سره ترسره کړي دي چې ترې مننه کوو او هغو کسانو چې د خپل امیر د امر اطاعت یې کړی او د نشه يي توکو د کښت، تولید او قاچاق څخه یې لاس اخیستی او دا ویاړ یې د خپلې ټولنې او واکمن نظام لپاره ترلاسه کړی دی. لکه مخکې مو چې یادونه وکړه د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې معینیت په خپل جوړښت کې تخنیکي څانګې لري، چې تخصصي فعالیتونه یې د نړیوالو معیارونو پر بنسټ دي او د هغوی هڅې د پام وړ پایلې لرلې دي.

د کوکنارو د کښت د کلیو د سروې له تحلیلي راپور څخه یادونه کولای شو چې د معلوماتو د راټولولو ټګلاره یې د نړیوالو څېړنیزو معیارونو پر بنسټ ولاړه ده او دا ثابتوي چې زموږ فعالیتونه او هڅې د سیمې او نړۍ لپاره ګټورې دي. او دا چې موږ د نړۍ د هغوخلکو په سر کې یو کوم چې د نشه يي توکو سره مبارزه کوي .

لکه څرنګه چې ټولو ته څرګنده ده د افغانستان خلک له اقتصادي ستونزو او بې وزلۍ سره لاس او ګرېوان دي او ډېری خلک د اقتصادي بې وزلۍ له امله د نشه يي توکو کښت کوي نو نړیوال باید د افغانستان خلک په دې برخه کې یعني له نشه يي توکو سره مبارزه کې یوازې پرینښودل شي او د بدیل معیشت، بدیل کښت او د نشه يي توکو د تقاضا کمولو په برخو کې باید د افغانانو سره هراړخیزه همکاري وکړي.

یو ځل بیا له ټولو هغو ملي او نړیوالو همکارو بنسټونو مننه او قدرداني کوو چې له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې یې له موږ سره همکاري کړې او په ځانګړې توګه له اړوندو څانګو څخه چې د دې سروې په طرحه، معلوماتو راټولولو، تحلیل، تالیف او خپرولو کې یې همکاري کړې ده .

**"له نشه يي توکو څخه د پاک افغانستان په هیله"**

## کلیدي موندنې

| په ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کې د کوکنارو د کښت د کلیو د سروې کلیدي موندنې | | | |
|---|---|---|---|
| برخي | شماره | موضوع | نتایج |
| لومړۍ برخه د کوکنارو کښت | 1 | د افغانستان په کچه د کوکنارو کښت | 14712هکتار |
| | 2 | د ۱۴۰۱ هجری لمریز کال په پرتله د کوکنارو په کښت کې کموالی | (%)94 |
| | 3 | د کوکنارو د کښت کولو عوامل | د ډیر ګټو تر لاسه کولو لپاره 58(%) |
| | | | فقر او بی وزلی، د کورنې ملاتړ او نا مناسب اقتصادی وضعیت 36(%) |
| | | | دا لړې هڅې ته اړتیا لری 6(%) |
| | 4 | د کوکنارو د کښت نه کولو عوامل. | د اسلامی شریعت او د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمان له مخی دکوکنارو کښت حرام او نا روا دی 88(%) |
| | | | ټولنیز زیان له امله ، په ځانګړی توګه (روږدی) 6(%) |
| | | | د اوبو کمښت، د ځمکې نشتوالی، د پیسو نشتوالی او د طبیعی پیښو خطر (%)4 |
| | | | د کوکنارو د کرلو لپاره ډیری هڅې پکار دی او دهغې عواید تر ډیره د نورو خلکو د ګټې لپاره کارول کېږی 2(%) |
| | 5 | په کلیو کې د کوکنارو د کښت د مخنیوی لپاره برنامې په لاره اچول. | (%)71 |
| | 6 | د جوماتونو ملا امامانو د کوکنارو د کښت د مخنیوی په اړه د پوهاوی په خپرولو کې ډیر ټولنیز او شرعی مسؤلیتونه سرته رسولی دي. | (%)46 |
| | 7 | د کروندګرو لخوا د تریاکو عواید تر ډیره په کومو سکتورنو کې کارول کېږی؟ | خواړه، روغتیا لګښتونه، د پور ادا کول او تعلیمی لګښتونه 95(%) |
| | 8 | د کوکنارو د کښت لپاره د پیشکې پیسو ویشل | نه 86(%) |
| | | | هو 14(%) |
| | 9 | د افغانستان په سطحه د تریاکو او مشروع نباتاتو اوسط نرخونه د یو بل په پرتله | د کوکنارو کښت 4.1(%) |
| | | | د چرسو کښت 0.7( %) |
| | 10 | د یو جریب کوکنارو د کښت اوسط لګښت په افغانیو | 13446 |
| | 11 | د یو جریب غنمو د کښت اوسط لګښت په افغانیو | 2375 |
| | 12 | هغه کروندګر چی مرسته ورسره شوی د زراعت او مالداری په برخه کې | (%)24 |
| | 13 | هغه کروندګر چی مرسته ورسره نه ده شوی د زراعت او مالداری په برخه کې | (%)76 |
| دویمه برخه روږدیتوب | 14 | په نشه یی توکو د روږدو کسانو تر منځ د نشه یی توکو استعمال سلنه | چرس 56(%) |
| | | | تریاک، چرس ومشروب الکولی 21(%) |
| | | | هیروئین یا مورفین 10(%) |
| | | | شیشه 8(%) |
| | | | شیشه،هروئین و تابلیت کا 3(%) |
| | | | تابلیت کا 1(%) |
| | 15 | په نشه یی توکو د روږدو کسانو روغتیایی حالت | متوسط 35(%) |
| | 16 | | ښه 22(%) |
| | 17 | | خراب 38(%) |
| | 18 | | ډیر خراب 5(%) |
| دریمه برخه ټولنیز مسایل | 19 | د کلیو د خلکو ترمنځ یووالی (اتحاد) | (%)75 |
| | 20 | د تیر کال په پرتله له امنیتی وضعیت او نظام څخه د خلکو رضایت | (%)98 |
| | 21 | د فقراؤ شمیر | (%)34 |
| | 22 | د کونډو شمیر | (%)2 |
| | 23 | د یتیمانو شمیر | (%)5 |
| | 24 | په کلیو کې فعال روغتیایی مرکزونه | (%)25 |
| | 25 | د کلی څخه بهر روغتیایی کلینیک ته لاسرسي | (%)69 |
| | 26 | په کلیو کې د ښځینه ډاکټرانو شتون | (%)32 |
| | 27 | مکتب او مدرسی ته د ماشومانو لاسرسی | (%)49 |
| څلورمه برخه ورځنۍ مزدوری | 28 | د کرنې په سکتور کې اوسط ورځنی مزدوری ( بغیر له تریاکو) په افغانیو | 363 |
| | 29 | غیر د زراعتی سکتور څخه اوسط ورځنی مزدوری ( دمثال په توګه، د کورونو او سړکونو جوړول) په افغانیو | 389 |
| | 30 | د تریاکو د خیشاوی په برخه کې ورځنی مزدوری په افغانیو | 414 |
| | 31 | د کوکنارو د نیش وهلو او را ټولو په برخه کې ورځنی مزدوری په افغانیو | 501 |
| | 32 | د هری کورنۍ د سړی سر د ورځی عاید چی کوکنار کری په افغانیو | 151 |
| | 33 | د هری کورنۍ د سړی سر د ورځی عاید چی کوکنار نه کری په افغانیو | 58 |
| | 34 | د کوکنارو د هر هکتار ځمکې اوسط عاید په افغانیو | 1099041 |
| | 35 | د غنمو د هر هکتار ځمکې اوسط عاید په افغانیو | 147445 |

## میتودلوژي/ کړنلاره

- د یادې شوې سروې پلان طرحه او ترتیب د هیواد د مالي او سیمه ییزو شرایطو په پام کې نیولو سره.
- د دې سروې د لا ښه او اغیزمن پیل په موخه د ولایتونو له والیانو او امنیه قومندانانو سره د یادې سروې له پیلولو مخکې د څو غونډو همغږي او ترتیب.
- د هیواد په زونونوکې د پلان مطابق د سروېرانو استخدام.
- د مرکزي تخنیکې ټیم لخوا په بیلابیلو زونونو کې د سروېرانو روزنه.
- په بیلابیلو زونونو کې د سروې پیلولو په اړه د کلیو د ملکانو، د جوماتونو له امامانو او له هغو کروندګرو سره چې کوکنار کري او هغه کروندګر سره چې کوکنار نه کري مرکې کول.
- د ګمارل شویو ټیمونو لخوا د سروې پلي کولو پرمهال د ساحوي کار د جریان څارنه.
- د زونونو په مرکزونو کې د بشپړ شویو پوښتنلیکونو راټولول او د سمولو په موخه یې مرکز ته لیږل.
- د مرکزي مسؤل ټیم لخوا په مرکز کې د پوښتنلیکونو چک کول او سمول.
- په مرکزي معلوماتي بانک (ډیټابیس) کې د راټولو شویو معلوماتو داخلول یا ذخیره کول.
- د معلوماتي بانک( ډیټابیس) څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره بیا په معلوماتي بانک کې د معلوماتو چک کول او سمول.
- د معلوماتي جدولونو، چارټونو او ګرافونو جوړول، د سلنو ارزونه او پرتله کول د پخوانیو ارقامو سره.
- د هیواد له زونونو څخه د کوکنارو د کښت او مشروع بوټو د اوسط حاصل په اساس د کوکنارو او مشروع بوټو د حاصلاتو اټکل.
- د هیواد له زونونو څخه د تریاکو او مشروع بوټو د اوسط قیمت او حاصلاتو پر اساس د تریاکو او مشروع بوټو د عوایدو اټکل.
- د سروې د ارقامو څخه د ترلاسه شویو پایلو پر اساس د تحلیلي راپور ترتیب.

# لومړی برخه

# د کروندګرو له نظره د کوکنارو کښت او هغه عوامل چې د کوکنارو کښت په زیاتوالي او کمښت اغیزه کوي

## ۱-۱ په ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کې د هیواد په کچه د کوکنارو کښت:

په ۱۴۰۲هجری لمریز کال کې د کوکنارو د کښت د کلیو د سروې د ارقامو له مخې د هیواد په ۳۳ ولایتونو (کندهار، هلمند، دایکندي، ارزګان، زابل، بدخشان، تخار، کندز، سرپل، بغلان، فاریاب، جوزجان، سمنګان، بلخ، بادغیس، غور، فراه، نیمروز، هرات، ننګرهار، لغمان، کنړ، نورستان، کابل، کاپیسا، بامیان، پکتیکا، غزنی، پروان، لوګر، پکتیا، خوست او میدان وردګ) کې د ۱۴۷۱۲ هکتاره ځمکې په اندازه کوکنار کرل شوي دي.

د دغې سروې د ارقامو له مخې یوازې ۴/۳ سلنه کورنیو په خپلو ځمکو کوکنار کرلي دي. د کوکنارو کښت په ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کې د (UNODC) د ۱۴۰۱ هجری لمریز کال د نا تایید شوي راپور په پرتله چې (۲۳۳۰۰۰) هکتاره ځمکه وه، د هیواد په کچه ۹۴ سلنه کمه شوې ده.

د کوکنارو د کښت د تخریب احصایې له مخې چې په ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کې ترسره شوې وه، د کوکنارو د کښت تخریب ۱۲۰۰۰ هکتاره ځمکه اټکل شوې، چې پر اساس یې، کروندګرو یوازې له ۲۷۱۲ هکتاره ځمکې څخه تریاک راټول کړي دي.

د دې سروې د ارقامو پر بنسټ په ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کې د هر هکتار ځمکې څخه ۴۶,۷ کیلو ګرامه تریاک تر لاسه شوی دي، نو په دی اساس د هیواد د تریاکو ټول تولید به ۱۲۶,۷ میټریک ټنو ته ورسیږي.

او همدارنګه په ۲۰۲۳ میلادي کال کې به په هیواد کې د کوکنارو د تولید ټولیز ارزښت ۴۷۴۹۳۹۰۰ امریکایي ډالرو ته ورسیږي.

## ۱ جدول: په ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کې د هیواد په کچه د کوکنارو د کښت د شپږو زونونو ارقام

| د افغانستان په سطح په ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کی د کوکنارو د کښت سروی پایلی | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| زون | شماره | ولایت | د کوکنارو کښت په هکتار | د کوکنارو کښت په جریب | د هر ولایت سلنه |
| سویل زون | 1 | کندهار | 5426 | 27130 | 90.6% |
| | 2 | هلمند | 399.4 | 1997 | 6.7% |
| | 3 | دایکندی | 98.2 | 491 | 1.6% |
| | 4 | زابل | 45.2 | 226 | 0.8% |
| | 5 | ارزگان | 20 | 100 | 0.3% |
| مجموعه | | | 5989 | 29944 | 100% |
| شمال ختیځ زون | 6 | بدخشان | 2934.2 | 14671 | 79% |
| | 7 | تخار | 776.4 | 3882 | 20.9% |
| | 8 | کندز | 3.2 | 16 | 0.1% |
| مجموعه | | | 3714 | 18569 | 100% |
| شمال زون | 9 | سرپل | 2514.6 | 12573 | 85.9% |
| | 10 | بغلان | 145 | 725 | 5% |
| | 11 | فاریاب | 85.8 | 429 | 2.9% |
| | 12 | جوزجان | 78.4 | 392 | 2.7% |
| | 13 | سمنګان | 73 | 365 | 2.5% |
| | 14 | بلخ | 28.8 | 144 | 1% |
| مجموعه | | | 2926 | 14628 | 100% |
| لویدیځ زون | 15 | بادغیس | 1076.6 | 5383 | 92.9% |
| | 16 | غور | 66 | 330 | 5.7% |
| | 17 | فراه | 6.3 | 31.5 | 0.54% |
| | 18 | نیمروز | 6 | 30 | 0.5% |
| | 19 | هرات | 3.4 | 17 | 0.3% |
| مجموعه | | | 1158 | 5792 | 100% |
| ختیځ زون | 20 | ننګرهار | 464.2 | 2321 | 73.7% |
| | 21 | لغمان | 113.3 | 567 | 18% |
| | 22 | کنړ | 50.4 | 252 | 8% |
| | 23 | نورستان | 2 | 10 | 0.3% |
| مجموعه | | | 630 | 3150 | 100% |
| مرکز زون | 24 | کابل | 134.8 | 674 | 45.5% |
| | 25 | کاپیسا | 107.7 | 538.3 | 36.4% |
| | 26 | بامیان | 18.6 | 93 | 6.3% |
| | 27 | پکتیکا | 11 | 55 | 3.7% |
| | 28 | غزني | 7 | 35 | 2.4% |
| | 29 | پروان | 4 | 20 | 1.4% |
| | 30 | لوګر | 4 | 20 | 1.4% |
| | 31 | پکتیا | 4 | 20 | 1.4% |
| | 32 | خوست | 3 | 15 | 1.01% |
| | 33 | میدان وردګ | 2 | 10 | 0.7% |
| | 34 | پنجشیر | 0 | 0 | 0% |
| مجموعه | | | 296.1 | 1480 | **100%** |
| **د افغانستان په کچه ټولیزه مجموعه** | | | **14712** | **73562** | |

### ۱-۲ سویل زون:

د پورتني جدول له مخی په ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کې د هیواد په سویل زون کې تر ټولو زیات کوکنار کرل شوي، چې مجموعه یې ۵۹۸۹ هکتاره ځمکه ده. د دغه زون د کندهار ولایت په ۵۴۲۶ هکتاره ځمکی کوکنار کرل شوي چې د سویل زون د ټولو کوکنارو ۹۰,۶ سلنه برخه جوړوي او د دغه زون پاتې ۴ ولایتونو کې یوازې ۹,۴ سلنه کوکنار کرل شوي دي.

### ۱-۳ شمال ختیځ زون:

د هیواد په شمال ختیځ زون کې په مجموعی ډول په ۳۷۱۴ هکتاره ځمکه کوکنار کرل شوې چې ددي مجموعې څخه بدخشان ولایت ۷۹ سلنه، تخار ولایت ۲۰,۹ سلنه او همدارنګه کندز ولایت ۰,۱ سلنه برخه جوړوی.

### ۱-٤ شمال زون:

د هیواد په شمال زون کې په مجموعي ډول په ۲۹۲۶ هکتاره ځمکه کوکنار کرل شوې چې د سرپل ولایت ۸۵,۹ سلنه، بغلان ولایت ۵ سلنه، فارياب ولایت ۲,۹ سلنه، جوزجان ولایت ۲,۷ سلنه، سمنګان ولایت ۲,۵ سلنه او بلخ ولایت ۱ سلنه برخه جوړوي.

### ۱-۵ لویدیځ زون:

د هیواد په لویدیځ زون کې په مجموعي ډول په ۱۱۵۸ هکتاره ځمکه کوکنار کرل شوې. د دغه زون په بادغیس ولایت کې په ۱۰۷۶,۶ هکتاره ځمکه کوکنار کرل شوي چې د لویدیځ زون د ټولو کوکنارو ۹۲,۹ سلنه برخه جوړوي، د دغه زون پاتې ۴ ولایتونو کې یوازې ۷,۱ سلنه کوکنار کرل شوي دي.


### ۱-٦ ختیځ زون:

د هیواد په ختیځ زون کې په مجموعي ډول په ۶۳۰ هکتاره ځمکه کوکنار کرل شوي چې د ننګرهار ولایت ۷۳,۷ سلنه ، لغمان ولایت ۱۸ سلنه، کنړ ولایت ۸ سلنه او همدارنګه نورستان ولایت ۰,۳ سلنه برخه جوړوي.

### ۱-۷ مرکز زون:


د هیواد په مرکز زون کې په مجموعي ډول په ۲۹۶,۱ هکتاره ځمکه کوکنار کرل شوي. د دغه زون په کابل ولایت کې په ۱۳۴,۸ هکتاره ځمکه کوکنار کرل شوي چې د مرکز زون د ټولو کوکنارو ۴۵,۵ سلنه برخه جوړوي، او همدارنګه په کاپیسا ولایت کې په ۱۰۷,۷ هکتاره ځمکه کوکنار کرل شوي چې د مرکز زون د ټولو کوکنارو ۳۶,۴ سلنه برخه جوړوي، د دغه زون پاتې ۸ ولایتونو کې یوازې ۱۸ سلنه کوکنار کرل شوي دي.

## ۱ شکل: په ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کې د هیواد د ولایتونو په کچه د کوکنارو د کښت سلنه




پورتنی شکل ښيي چې کندهار ولایت د کښت د سلنې له مخې د جدول په سر کې دي، ورپسی بدخشان، سرپل، بادغیس، تخار، ننګرهار او هلمند ولایتونه دي چې د نورو ولایتونو په پرتله په کښې ډیر کوکنار کرل شوي دي، په داسې حال کې چې په پاتې ولایتونو کې د کوکنارو کښت نسبتاً کم دی.

## ۲ شکل: د (۲۰۰۱ او۲۰۲۳) میلادی کلونو ترمنځ د کوکنارو د کښت په اړه د افغانستان د اسلامي امارت د لومړي او دویم فرمان اغیزې




**د افغانستان د اسلامي امارت د کوکنارو د کښت د منع لومړنی فرمان** چې د اسلامي امارت د تاسیس په لومړي پړاؤ کې صادر شوی و د کوکنارو کښت چې له ۱۹۹۴ څخه تر ۲۰۰۰میلادی کلونو پورې د تغیر په حالت کې و، په ۱۹۹۹میلادی کال کې د ۹۱,۰۰۰ هکتاره ځمکې په اندازی سره خپل اوج ته ورسیده.


په ۲۰۰۱ میلادی کال کې د یاد شوی فرمان په نتیجه کې د کوکنارو کښت تر ۸۰۰۰ هکتارو پوری راکم شو، چې دغه کمښت د ۱۹۹۹ میلادی کال په پرتله ۹۱٪ وو.

**د افغانستان د اسلامي امارت د کوکنارو د کښت د منع دوهم** فرمان چې د دوهم پړاو له بریا وروسته ، د ۲۰۲۲ میلادی کال د اپریل په میاشت کې د کوکنارو کښت او د نشه يي توکو د پېر، پلور، استعمال، صادرولو او واردولو د منع په اړه صادر شو د کوکنار د کښت کچه تر ۱۴۷۱۲ هکتاره ځمکی ته راښکته شوه.

له بده مرغه د ۲۰۰۲-۲۰۲۰ میلادی کلنو تر منځ د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د پراخو لګښتونو سره سره، د کوکنار کښت د لوړېدو په حال کې و او په ۲۰۱۷ میلادی کال کې ۳۲۸۰۰۰ هکتاره ځمکه د کوکنار تر کښت لاندی رسیدلی وه.

د کوکنارو په کښت کې دا د پام وړ کمښت (۱۴۷۱۲) هکتاره ځمکه د ۲۰۱۷ کال د کښت(۳۲۸۰۰۰) هکتاره ځمکی په پرتله ۹۶ سلنه کمښت ښيي،او دا د افغانستان د خلکو او د اسلامي امارت لپاره لویه لاسته راوړنه ده؛ ځکه چې په تیرو شلو کلونو کې د کوکنارو د کښت پراخیدل د بیلابیلو لاملونو له مخې د افغانستان شهرت ته د نړیوالې ټولنې په کچه زیان رسولی وو.

### ۳ شکل: په (۲۰۰۱ او ۲۰۲۳) کلونو کې د تریاکو د تولید پر بهیر د افغانستان د اسلامي امارت د لومړي او دویم فرمان اغیزې




د افغانستان د اسلامي امارت د لومړي فرمان له مخې د تریاکو تولید په ۲۰۰۰ میلادی کال کې له ۳۲۷۶ متریک ټنو څخه په ۲۰۰۱ میلادی کال کې ۱۸۵ متریک ټنو ته راټیټ شو چې دا په ټول هیواد کې د تریاکو په تولید کې ۹۴ سلنه کموالی ښيي.


له بده مرغه، د ۲۰۰۲ میلادی کال له پیل راهیسې، د موقت حکومت له جوړېدو سره، د کوکنارو کښت او د تریاکو تولید په چټکۍ سره پراخ شو.

د هیواد په کچه د تریاکو تولید د ۲۰۰۲-۲۰۱۷ کلونو ترمنځ دوه ځله اوج ته رسیدلی و؛ لومړی ځل یې په ۲۰۰۷ میلادی کال کې د ۷۴۰۰ متریک ټنو سره او دوهم ځل یې په ۲۰۱۷ میلادی کال کې د ۹۰۰۰ متریک ټنو سره، له همدي امله افغانستان په نړۍ کې تر ټولو زیات تریاک او هیروېین تولید کول.

د افغانستان د اسلامي امارت د بیا تاسیس او د کوکنارو د کښت د منع کولو د دوهم فرمان په صادریدو سره په ۲۰۲۳ میلادی کال کې د تریاکو تولید تر ټولو ټیټې کچې (۱۲۶,۷ ) متریک ټنه ته ورسید چې دا کمښت د ۲۰۱۷ کال په پرتله چې په هیواد کې د تریاکو د تولید د اوج مرحله وه ۹۸,۶٪ کمښت ښيي.

په دې اساس ویلای شو چې افغانستان د تریاکو د تولید له پلوه صفر نقطې ته ډېر نږدې شوی دی او د افغانستان خلک په نشه يي توکو د روږدو کسانو د راټولولو او درملنې او همدارنګه د هر ډول نشه يي توکو د ضبط په برخه کې د دې لاسته راوړنو شاهدان دي.

## نقشه ۱: د هیواد د ولایتونو په کچه د کوکنارو کښت په هکتار



### ۴ شکل: د کوکنارو د کرلو لاملونه د کوکنارو د کروندګرو له نظره


| | |
|---|---|
| د ډیرو ګټو تر لاسه کولو لپاره | ٪ ۵۶ |
| فقر او بی وزلی، د کورنی ملاتړ او نامناسب اقتصادی وضعیت | ٪ ۳۶ |
| دا لړی هڅی ته اړتیا لری | ٪ ۶ |

د هغو ارقامو له مخې چې د هیواد د کلیو په کچه د کوکنارو له کروندګرو سره مرکې شوي، د کوکنارو کښت ۵۸ سلنه اقتصادي لاملونه لري چې کروندګر د زیاتو عایداتو د ترلاسه کولو په موخه د کوکنارو کښت ته مخه کوي. له دې وروسته فقر، بیوزلي او نامناسب اقتصادي وضعیت یو له مهمو او د پام وړ عواملو څخه دي چې کروندګر اړ دي ترڅو د خپلو کورنیو د روزلو لپاره کوکنار وکري.

> زمونږ د څیړنې له مخې، د کروندګرو لومړۍ ډله د زیاتو عایداتو د ترلاسه کولو لپاره د کوکنارو کښت کوي او د مخنیوی یوازینی لار یې د قانون پلي کول دي.
>
> خو د کروندګرو له دوهمې ډ لې سره چې د خپلو کورنیو د ورځنیو اړتیاؤ د پوره کولو لپاره له بې وزلۍ او سختیو څخه د کوکنارو کښت ته مخه کوي، د قانون پر پلي کېدو سربیره د خپلو لومړنیو اړتیاؤ د پوره کولو لپاره د بدیل لارې په توګه د دولت اقتصادي مرستو ته اړتیا لري. د مثال په توګه خوارکي توکي او روغتیایي لګښتونه.

له دې سروې څخه د ترلاسه شویو ارقامو له مخې، د تریاکو ۹۵ سلنه عواید د کروندګرو لخوا په څلورو مهمو لومړیتوبونو کې کارول کېږي چې د کورنیو اساسي اړتیاوې جوړوي، او ډیره برخه یې د خوړلو او روغتیا په برخو کې مصرفیږي.

## ۵ شکل:  د ترياکو د عوایدو د لګښتونو لومړیتوبونه




## ۱-۷ د کوکنارو د کښت لپاره د پیشکي  پیسو ویشل او نه ویشل:

یو له هغو هڅونو څخه چې په هیواد کې له کلونو راهیسې د کوکنارو د کښت لپاره کارول کېده او د کوکنارو د کښت کولو یو لامل هم بلل کېده، د کروندګرو په مینځ کې د ګټه اخیستونکو له خوا د پیشکي پیسو ویشل وو، له همدې امله په دې سروې کې یوه جلا پوښتنه وشوه، چې ۱۴ سلنه کروندګرو د پیشکي  پیسو د ویشلو او پاتې ۸۶ سلنه کروندګرو د  پیشکي پیسو د نه ویشلو په اړه ځوابونه ویلي دي.


## ۲ جدول: د کوکنارو د کښت لپاره د پیشکي پیسو ویشل او نه ویشل

| ځوابونه | د ځوابونو شمیر | د ځوابونو سلنه |
|---|---|---|
| هو | 193 | 14% |
| نه | 1206 | 86% |
| **مجموعه** | **1399** | **100%** |

## ۱-۸ د کورنیو لخوا د مشروع او غیر مشروع بوټو د کرلو په اړه نظر پوښتنه:

دا پوښتنه د نورو مشروع بوټو په مینځ کې د کوکنارو او چرسو د کښت سلنې د تر لاسه کولو لپاره شوې. په حقیقت کې دا د کوکنارو او د چرسو د کښت د ساحې د سلنې اندازه کولو لپاره یوه بله کړنلاره ده.

### ۶ شکل: د هیواد د کلیو په کچه د مشروع، غیر مشروع بوټو کښت او د باغدارۍ سلنه





پورتني ارقام د نورو نباتاتو په مینځ کې د کوکنارو کښت ۴,۱ سلنه او د چرسو کښت ۰,۷ سلنه ښرګندوي. دغه معلومات په هیواد کې له ۹۶۴۳ کروندګرو څخه تر لاسه شوي او دا یوه اټکل شوې شمیره ده.

## ۱-۹ د یو جریب کوکنارو د کښت لګښت په افغانیو:

د دې پوښتنې موخه د کوکنارو د کښت د هر جریب لګښت تر لاسه کول دي او دا سروې یوازې د هغو کروندګرو لپاره ده چې کوکنار کري. د دې سروې څخه د ترلاسه شویو ارقامو پر بنسټ، هر کروندګر په اوسط ډول په هر جریب ځمکه کې (۱۳۴۴۶) افغانۍ مصرفوي.

دا لګښتونه په ۷ پړاوونو کې ترسره کېږي، چې ډېرئ یې د تریاکو کښت او راټولول او لږ تر لږه یې د تریاکو د تخمونو اخیستلو په برخه کې مصرفیږي چې په لاندې شکل کې ښودل شوي.

## ۷ شکل: د کوکنارو د کښت دهرې مرحلې د لګښت سلنه




## ۱۰-۱ د یو جریب غنمو د کښت لګښت په افغانیو:

په دې برخه کې د (۳۵۰۷۰,۷) جریبه د غنمو ځمکې د کښت ټول لګښت چې د هیواد د کلیو د کروندګرو له لارې ترلاسه شوي، (۸۳۳۰۷۸۰۵) افغانۍ کېږي.

په دې اساس هر کروندګر د هر جریب د غنموځمکې د کرلو لپاره په اوسط ډول (۲۳۷۵) افغانۍ مصرفوي. دا لګښتونه په ۸ مرحلو کې ترسره کېږي، چې ډیرئ یې د حاصلاتو راټولول او ریبل دي.

د کوکنارو د کښت د اوسط لګښت د پایلو پر اساس، چې (۱۳۴۴۶) افغانۍ اټکل شوي، د غنمو د کښت د اوسط لګښت په پرتله ۵,۷ برابره دي.

## ۳ جدول: د هیواد په کچه د غنمو د کښت اوسط لګښت د هر جریب په افغانیو

| د غنمو د کښت ټوله ساحه | د لګښت ډولونه | د لګښت اندازه په افغانیو | سلنه |
|---|---|---|---|
| 35070.7 جریب | ریبل | 25151445 | 30% |
| | کیمیاوی دوا استعمال | 15904566 | 19% |
| | خیشاو | 11593340 | 14% |
| | خړوب کول | 10876125 | 13% |
| | کیمیاوی سره | 8814710 | 11% |
| | تریشل ماشین | 6641499 | 8% |
| | تخمونه | 2712560 | 3% |
| | قلبه کول | 1613930 | 2% |
| مجموعه | | 83308175 | 100% |
| د هر جریب غنمو د کښت لګښت په افغانیو | | 2375 | |


## ۱۱-۱ د بزګرانو لپاره د کرنې، مالدارۍ او باغدارۍ په برخه کې د مرستو د بهیر څرنګوالې:

د افغانستان په کلیوالو ټولنو کې زیات شمیر خلک ژوند کوي او په عمومي ډول په کرنه، مالدارۍ او باغدارۍ بوخت دي او د دغو ۲ سکتورونو د تولیداتو له خرڅلاؤ او تولید څخه خپل ژوند پر مخ وړي.

په افغانستان کې کلیوالي ژوند له اقتصادي اړخه ډیر بدلونونو سره مخ کېږي، چې بیلابیل عوامل کولای شي د کورنیو پر اقتصاد اغیزه وکړي.

د بېلګې په توګه: وچکالي، د نفوس زیاتوالي، مهاجرت او داسې نور. له همدې امله د افغانستان کلیوالي کورنۍ د کرنې، مالدارۍ او باغدارۍ په برخه کې مرستو ته اړتیا لري، ترڅو دغه مرستې د بې وزلۍ او کږوالۍ د پاتې کېدو مخه ونیسي.

### ۸ شکل: د کرنې، باغدارۍ او مالدارۍ سکتور څخه د ګټه اخیستونکو کروندګرو ارقام




پورتنۍ شکل ښیئ چې د تخمونو له مرستې څخه یوازې د ګټه اخیستونکو کروندګرو شمیر د غیر ګټه اخیستونکو کروندګرو په پرتله زیات دي، په نورو برخو کې د څمکو لرونکو کورنیو سره لږې مرستې شوې دي.

د بېلګې په توګه، د حیواناتو د واکسین په برخه کې له ټولیز(۲۰۷۱) بزګرانو له جملې څخه ۵۳۴ کسانو سره مرسته شوې او ۱۵۳۷ کسانو سره نده شوې، د ګیاه ضد دوا په برخه کې له ټولیز(۲۰۳۳) بزګرانو له جملې څخه ۱۲۲ کسانو سره مرسته شوې او ۱۹۱۱ کسانو سره نده شوې، د حشراتو ضد دوا په برخه کې له ټولیز (۱۹۷۴) بزګرانو له جملې څخه ۹۳ کسانو سره مرسته شوې او ۱۸۸۱ کسانو سره نده شوې، د کرنیزو توکو په برخه کې له ټولیز (۱۹۷۷) بزګرانو له جملې څخه ۱۷۷ کسانو سره مرسته شوې او ۱۸۰۰ کسانو سره نده شوې، د کیماوي سرې په برخه کې له ټولیز (۲۱۸۰) بزګرانو له جملې څخه ۱۰۳۴ کسانو سره مرسته شوې او ۱۱۴۶ کسانو سره نده شوې او همدارنګه پرته له خارجي کومکونو په برخه کې له ټولیز (۲۰۰۱) بزګرانو له جملې څخه ۳۰۴ کسانو سره مرسته شوې او ۱۶۷۹ کسانو سره نده شوې.

په بل عبارت؛ په ټولیزه توګه ۲۴ سلنه کروندګر د کرنې، باغدارۍ او مالدارۍ د سکتور له مرستو څخه برخمن شوي او پاتې ۷۶ سلنه کروندګر له یادو سکتورونو څخه مرستې نه دي ترلاسه کړې.

## ۱-۱۲ د افغانستان په سطحه د ترياکو او مشروع نباتاتو اوسط نرخونه د يو او بل په پرتله:

په دغه راپور کې په ۱۴۰۲ هجری لمريز يعنی (۲۰۲۳) ميلادي کال کې د يو کېلو ګرام تازه او وچو ترياکو بيه او د سوداګرو په کچه د مشروع حاصلاتو لکه غنم، پنبه، وريجې او زعفرانو بيې سره پرتله شوي دي.

د نورو مشروع بوټو (غنم، پنبه او وطني وريجې) د يو کېلو ګرام اوسط قيمت چې په ترتيب سره (۰٫۴ ډالر، ۲٫۱ ډالر او ۰٫۸ ډالر دي د ترياکو د اوسط قيمت سره د پرتلې وړ ندي، له دې جملې څخه يوازې زعفران دي، چې په ۱۴۰۲ هجری لمريز کال کې له ( حمل څخه تر عقرب) پورې يې اوسط بيه ۸۶۶ ډالره اټکل شوې ده.

### ۴ جدول: د ترياکو او زعفرانو د بيو مقايسه

| د يو کيلوګرام ترياکو او زعفرانو مقايسه بيه په امريکايي ډالرو په ۱۴۰۲ هـ ش (۲۰۲۳) ميلادی کال کې | | | | د يوکيلوګرام ترياکو او زعفرانو بيه د يو او بل په پرتله |
|---|---|---|---|---|
| د پټي په سر د يوکيلوګرام وچ ترياکو اوسط بيه | 332 | د يو کيلوګرام زعفرانو اوسط بيه | 866 | 2.6 |
| د تجارانو له خوا د يوکيلوګرام وچ ترياکو اوسط بيه | 345 | | | 2.5 |
| د پټي په سر د يوکيلوګرام تازه ترياکو اوسط بيه | 231 | | | 3.8 |
| د تجارانو له خوا د يوکيلوګرام تازه ترياکو اوسط بيه | 238 | | | 3.6 |

له پورتني جدول څخه موږ دې نتيجې ته رسيږو چې د زعفرانو بيه د تازه ترياکو په پرتله څلور برابره او د وچو ترياکو په پرتله دوه نيم برابره ده. له همدې امله، زعفران په هغو سيمو کې د کوکنارو د کښت لپاره مناسب بديل کېداێ شي چېرې چې دا بوټي د چاپيريال سره مطابقت لري او وده کوي. هرات د افغانستان په کچه ترټولو ښه زعفران لري، له همدې امله زعفران د هيواد له عمده صادراتي توکو څخه شميرل کېږي او د غوره کيفيت لرونکو توکو له پلوه په نړدې او لرې ټولو هيوادونو کې نوم لري.

### ۵ جدول: د کوکنارو د نه کرلو عوامل د هغو بزګرانو له نظره چې کوکنار يې ندی کرلي

| د کوکنارو د نه کرلو لاملونه | د کروندګرو شمير | سلنه |
|---|---|---|
| د اسلامي شريعت او د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمان له مخې د کوکنارو کښت حرام او ناروا دي | 1681 | 88% |
| ټولنيز زيان له امله، په خانګړي توګه (روږدي) | 109 | 6% |
| د اوبو کمښت، د ځمکې نشتوالي او د طبيعي پيښو خطر | 77 | 4% |
| د کوکنارو د کرلو لپاره ډيري هڅې پکار دي او د هغه عوايد تر ډيره د نورو خلکو د ګټې لپاره کارول کيږي | 39 | 2% |
| ځکه د کوکنارو کښت بيا د دولت لخوا له منځه وړل کيږي (تخريب) | 3 | 0.2% |
| **مجموعه** | **1909** | **100%** |

د پورتني جدول د معلوماتو پر اساس، د کوکنارو د نه کرلو يواځينی لامل چې ۸۸ سلنه کروندګر يې د اسلامي شريعت او د اميرالمؤمنين حفظه الله د حکم اطاعت ياد کړی دی. د کوکنارو د کښت ټولنيز زيانونه، د منابعو (اوبو، ځمکې اوپيسو) کمښت او په بيلابيلو پړاوونو کې د کوکنارو د کښت زحمتونه په ټوليزه توګه د کوکنارو د نه کرلو ۱۲ سلنه لاملونه دي، چې ډيره کمه سلنه ده.

زمونږ څيړنه دا لامل ښيئ چې سږ کال د بزګرانو له خوا د کوکنارو د نه کرلو لامل تر ډيره د قانون د پلی کولو او د کوکنار د کښت د له منځه وړلو له ويرې څخه دي او دوی نه غواړي چې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې له ځواکونو سره مخ شي.

چې دغه لاملونو ته په دې سروې کې تر ډيره اشاره نده شوې.


## ۱-۱۳ په کلیو کې د کوکنارو د کښت د مخنیوي لپاره د برنامو په لاره اچول:

د کوکنارو د کښت د مخنیوي لپاره یوه مهمه لاره د عامه پوهاوي برنامو په لاره اچول دي او دا برنامې له هغو عواملو څخه ګڼل کېدای شي چې د کوکنارو د کښت د کمښت لامل کېږي.


په دې برخه کې له ۱۷۰۰ کسانو سره مرکې شوي، له دې جملې څخه ۱۲۱۵ کسانو چې ۷۱ سلنه کېږي، مثبت ځوابونه ورکړي او پاتې ۴۸۵ کسانو چې ۲۹ سلنه کېږي، د کوکنارو د کښت د مخنیوي د برنامو د نه پلي کېدو یادونه کړې.

> د یاد شویو لاملونو تر څنګ کروندګرو ته د اقتصادي مرستو ویش په ځانګړې توګه د بدیل معیشت په برخه کې هم د کوکنارو د کښت د مخنیوي یو بل لامل کېدای شي.

### ۹ شکل: د کوکنارو د کښت د مخنیوي د برنامو د تطبیق سلنه



## ۱۰ شکل: د کوکنارو د کښت د مخنیوی په اړه د خلکو د پوهاوي د ترلاسه کولو لارې چارې




په پورتني شکل کې د یاد شویو ارقامو پر اساس، د جوماتونو ملا امامانو د کوکنارو د کښت د مخنیوی په اړه د پوهاوي په خپرولو کې ډیر ټولنیز او شرعی مسؤلیتونه سرته رسولي دي. وروسته د شوراګانو، غږیزو رسنیو (راډیو)، د ولایتونو مسؤلینو، ویډیویې رسنیو (ټلویزیون)، چاپي رسنیو ( د بلبورډونو نصبولو) او په پای کې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې پولیسو هر یو د خلکو د پوهاوي په برخه کې ونډه اخیستې ده.

# دویمه برخه

# روړدیتوب او د هغه عوامل

## ۱-۲ په نشه يي توکو روږدیتوب او د هغه عوامل:

په نشه يي توکو روږدي کېدل نه یوازې په افغانستان کې، بلکې د نړۍ په بېلابېلو هیوادونو کې يوه روښانه حقیقت دئ، چې د نورو ټولنیزو ستونزو ترڅنګ پر بشري ټولنې هم فشار راوړي. دې ستونزې په هغه هیوادونو کې چې هر ډول نشه يي توکو ته اسانه لاسرسی موجود وي ډېرئ خلک يې اغیزمن کړي او همدارنګه د بېلابیلو عمرونو يوه لويه ډله خلک يې د اعتیاد په جال کې راګیر کړي او د ټولنې د اوږو بار يې ګرځولي دي.

له بلې خوا، روږدیتوب د دې لامل ګرځي چې روږدي کسان دوه اصلي جرمونه ترسره کوي. يو يې د نشه يي توکو لېږد، پېر او پلور او بل يې د تر لاسه کولو لپاره غلا کول دي، چې دواړه نشه يي توکو د ترلاسه کولو لپاره اړين دي.

په نشه يي توکو روږدي کېد ل بېلابېل لاملونه لري چې په لنډ ډول يې لاندې يادونه کوو.

### الف) ټولنيز عوامل:

نشه يي توکو ته د آسانه لاسرسي ترڅنګ، بیکاري د يوې ټولنيزې ستونزې په توګه د ټولنيزو انحرافاتو او په ځانګړې توګه د روږدیتوب بنسټ جوړوي.

نور عوامل د بیلګې په توګه؛ بې وزلي، ذهني او رواني اختلالات، پر ځان بې اعتمادي، بې کفایتي، د شخصیت نیمګړتیاوې، اندېښنې او ناکامي دا عوامل په ګډه سره د اعتیاد سبب کېدلائ شي.

### ب) کورني عوامل:

په کورني چاپېریال کې نفاق او بې اتفاقي، د مور او پلار د سواد ټیټه کچه، یتیمي کورنۍ، د خود غرضو یا غفلت کوونکو والدینو د تعلیمي میتودونو په اړه د پوهاوي نشتوالی او د مور او پلار ترمنځ د دوستانه او صادقانه اړیکو نشتوالی هغه عوامل دي چې د روږدیتوب لامل ګرځي.

### ج) له اقتصادي هوساینې سره بیکاري:


لويو ښارونو ته مهاجرت، کلتوري توپېرونه، یوازیتوب، د کورنیو او خپلوانو د ملاتړ نشتوالی، د کور او چاپېریال خراب شرایط د روږدي کېدو لامل ګرځي. د نشه يي توکو کارول د يوې ټولنيزې پدیدې په توګه، په هغه ټولنو کې چې د مخدره توکو کارول نه یوازې د ارزښت ضد نه ګڼل کېږي، بلکې د ټولنې د دودونو يوه برخه او د درناوي وسیله هم وي، د مخدره توکو کارولو سره يې هیڅ ډول مقاومت شتون نلري. له همدې امله په نشه يي توکو روږدی کسان خپل ملګري نشه يي توکو کارولو ته هڅوي او د نشه يي توکو د استعمال له خطر سره يې مخ کوي.

### د) اقتصادي هوساینې:

په هغو کورنیو کې چې ډېرې هوساینې او اقتصادي عواید لري، د کارونو یا مصروفیتونو له امله انساني اړیکې کمزورې کېږی. د انسان د اړیکو ضعف هم نشه يي توکو ته د انسان د جذب کولو لپاره يو ښه لامل دی. د دې ادعا تر ټولو ښه دلیل په صنعتي ټولنو کې د روږدو کسانو په سلنه کې ورځنی زیاتوالی دی چې د صنعت له ودې سره مستقیمه اړیکه لري.

له همدې امله د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې معینیت د دې سروې له لارې د کلیو په کچه په نشه يي توکو د روږدو کسانو ارقام راټول کړي دي.

### ۱۱ شکل: د نشه يي توکو د استفاده کوونکو سلنه




په پورتني شکل کې ليدل کېږي چې د روږدو کسانو ۵۶,۵ ٪ چرس، ۲۰,۹٪ د درې ډوله نشه يي توکو (ترياکو، چرس او الکول)، ۱۰٪ هيروين او مورفين، ۸,۱ ٪ شيشه، ۲,۳ ٪ شيشه، هيروين او ټابليټ k او ۱,۲٪ يوازې ټابليټونه کاروي.

### ۶ جدول: د روږدو کسانو روغتيايي حالت

| په کلیو کې په نشه يي توکو د روږدو کسانو روغتيايي حالت | | |
|---|---|---|
| متوسط | 390 | 35% |
| ښه | 244 | 22% |
| خراب | 422 | 38% |
| ډير بد( دوی په کوڅو کې ژوند کوی) | 58 | 5% |
| **مجموعه** | **1114** | **100%** |

پورتني جدول کې له ۷۰ سلنه څخه د زياتو روږدو کسانو روغتيايي وضعيت متوسط او خراب، ۲۲ سلنه ښه او يو کم شمير چې شاخوا ۵ سلنه کېږي خپلې ورځې په ډير بد حالت کې (په سړکونو کې) تيروي ؛ښودل شوي دي.

له همدې امله موږ دې نتيجې ته رسيږو چې په افغانستان کې د اسلامي امارت د نظام په قيام او د روږدو کسانو د را ټولولو د پروسې په پلې کېدو سره په نشه يي توکو د روږدو کسانو شمير چې پر سړکونو او تر پلچکونو لاندې يې ژوند کاوه د يوه ناوړه وضعيت ښکارندوينه يې کوله، د پام وړ کم شوی دی. دا نتيجه د افغانستان د خلکو لپاره د اسلامي امارت يوه مهمه لاسته راوړنه ګڼل کيږي.

# د ریمه برخه
# ټولنیز مسایل

### ۳-۱ ټولنیز وضعیت:

د راپور په دې برخه کې(بیوزلي، مهاجرتونه، د هغو کورنیو شمیر چې د بیلابیلو لاملونو له امله یې د خپلو کورنیو سرپرست غړي له لاسه ورکړي، د یتیمانو شمیر، روغتیایي مرکزونو ته د خلکو لاسرسی، د عصري او دیني زده کړو مرکزونو او په کلي کې د ښځینه ډاکټرانو شتون) شامل دي.

البته؛ د دې سروې په پوښتنلیکونو کې د پورتنیو موضوعاتو په اړه په دې وجه پوښتنې شوي ترڅو دا روښانه شي چې ځینې ذکر شوي انتخابونه لکه فقر او بې سوادي کېدائ شي هغه عوامل وي چې خلک د کوکنارو کرلو، نشه یي توکو پلورلو، یا په دودیزو او صنعتي نشه یي توکو د روږدي کېدولامل کېږي.

همدارنګه په دې برخه کې به د کلیو د اوسیدونکو ترمنځ د یووالي د ټینګښت او د هغوی د امنیتي وضعیت په اړه چې ارقام یې په دې سروې کې راټول شوي، بحث وشي.

### ۳-۲ د بې وزلو، کونډو، یتیمانو او په نشه یي توکو د روږدو کسانو ارقام:

دغه ارقام چې د کلیو له ۱۷۹۵ تنو او د جوماتونو له ملا امامانو سره د مرکو په نتیجه کې تر لاسه شوي دي، د ۶۲۳۵۲۶۹ وګړو له جملې څخه ۳۴ سلنه یې بې وزله، ۲ سلنه یې کونډې، ۵ سلنه یې یتیمان او یو څه شمیر کسان یې په نشه یي توکو روږدي دي.

### ۳-۳ په کلیو کې د روغتیا سکتور ارقام:

په دې برخه کې ۲۵ سلنه کلیو کې روغتیایي مرکزونه شته او ۶۹ سلنه خلک د خپلې کورنۍ د غړو د درملنې په موخه له کلي بهر روغتیایي مرکزو ته (د ښار په مرکزونو او ولسوالیو) کې مراجعه کوي او یوازې ۶ سلنه خلک له روغتیایي خدمتونو بې برخې دي.

د ښځینه ډاکټرانو د شتون په اړه، ۳۲ سلنه مرکه کونکو مثبت ځواب ورکړی او پاتې ۶۸ سلنه یې ځواب ورکړي چې د دوی په کلیو کې ښځینه ډاکټرانې کمې دي.


### ۳-٤ د کلیو امنیتي وضعیت د تیر کال او تیر رژیم په پرتله:

دا سروې چې د هیواد په کلیو کې ترسره شوې، ارقام یې ښیئ چې د ځواب ویونکو اکثریت چې شمیر یې ۹۸٪ ته رسیږي، د اړوندو کلیو له امنیتي وضعیت څخه راضي دي.

په ټولیز ډول امنیت چې اوس مهال په هیواد کې شتون لري، په کلیو کې د پراختیایي پروژو د پلان کولو او پلي کولو لپاره یې بنسټ چمتو کړی دی. د کرنې، باغدارۍ، مالدارۍ او د مشروع نباتاتو د کښت د ترویج په برخه کې مسؤلې ادارې کولائ شي اصلاح شوي تخمونه وویشي، د کروندګرو د محصولاتو د خرابیدو د مخنیوي لپاره سړې خونې جوړې کړي، د کرنیزو محصولاتو د رسولو د اسانتیاؤ په موخه له کلیو څخه تر ښارونو پورې سړکونه جوړ کړي او همدارنګه د اوبو د زیات مصرف مخنیوي لپاره د څاڅکو اوبو لګولو د سیستم پراختیا، د شنو خونو جوړولو او د کرنې، باغدارۍ او مالدارۍ په برخه کې د کروندګرو سره مرستې وکړي ترڅو د هیواد د کلیو اوسیدونکي په اړونده سکتور کې په ځان بسیا شي.

**د افغانستان ډیرئ وګړي په کرنې، باغدارۍ او مالدارۍ بوخت دي، له همدې امله د دې سکتور د ودې له لارې ناخالص کورني تولیدات( GDP) ته د زیاتوالي زمینه برابریږي. دا کار په خپل وار سره د کرنیزو توکو د صاداراتو د زیاتوالي لامل کیږي او په پایله کې به د افغانستان سوداګرۍ بیلانس د کسر څخه د ودې لور ته هڅوي. نو له همدې امله د دې سکتور د ودې له لارې ډیر ژر به افغانستان سوکالۍ او اقتصادي خودکفایۍ ته ورسیږي.**

## ۱۲ شکل: په کلیو کې د پوهنې سکټور ارقام




د دې سروې د پایلو له مخې د هیواد د کلیو خلک د پوهنې په برخه کې نیمګړتیاوې لري. که چېرې محترم مسؤلین له اړوندو وزارتونو سره په همغږۍ دغه نیمګړتیاؤ ته پاملرنه وکړي، د خلکو ستونزې به له منځه ولاړې شي او په راتلونکې کې به لوستي او پوه ځوانان نه یوازې نشه يي توکو له ستونزو سره مخ نه وي، بلکې دوی به د پوهنې له لارې خپل هیواد ته خدمت وکړي.

# خلورمه برخه
# اقتصادي مسايل

## ٤-۱ په افغانستان کې د کلیوالو کورنیو د عوایدو سرچینې:

د راپور دا برخه د هغو کورنیو د عایداتي سرچینو په اړه ده، چې ارقام یې له هغو کروندګرو څخه د مرکو له لارې راټول شوي چې کوکنار یې کرلي او له هغو سره چې کوکنار یې ندي کرلي.

دا به هم روښانه شي چې د هیواد کلیوالې کورنۍ د خپلو ورځنیو اړتیاؤ د پوره کولو لپاره د عاید کومې سرچینې سره تړلې دي. او هغه کروندګر چې کوکنار یې کرلي او هغه کروندګر چې کوکنار یې ندي کرلي، د عاید په برخه کې یې څومره توپیر دی؟

اوکه د کوکنارو او چرسو د کرلو عاید د کروندګرو له مشروع عاید څخه کم شي، نو دا به د کورنیو په سر د عاید څومره سلنه اغیزه وکړي؟ موږ به لاندې دې پوښتنو ته روښانه ځوابونه ولرو.

### ۷ جدول: په هیواد کې د کلیوالو کورنیو د عایداتو سرچینې

| لومړۍ برخه | د هغو کورنیو د عایداتو سرچینې چې کوکنار کري | | |
|---|---|---|---|
| | د عایداتو سرچینې | د کلني عاید اندازه په افغانیو | سلنه |
| د کورنیو شمیر | د تریاکو له خرڅلاو څخه (د تریاکو تخم او د تخم تیل) | 126808939 | 65% |
| | د مشروع نباتاتو، میوه، ګلان( په شمول د محصولاتو بوس) | 36926123 | 19% |
| | مالداري او دهغه تولیدات لکه؛ هګی او شیدي | 7939223 | 4% |
| | د کرنیزو کارونو روزمره مزدوري | 5439800 | 3% |
| | د چرسو خرڅلاو | 4253000 | 2.2% |
| | غیر له کرنیزو کارونو څخه روزمره مزدوري | 3697800 | 1.9% |
| | د بهر څخه د پیسو رالیږل | 3672000 | 1.87% |
| | معاش لرونکي دندي | 2339900 | 1.2% |
| | وړکی تجارت یا د محصولاتو پلور | 2118700 | 1.1% |
| | د کور او نورو توکو لکه؛ موټر په کرایه ورکول | 1350000 | 0.7% |
| | د ځنګلاتو د تولیداتو خرڅلاو | 1581950 | 0.8% |
| | نور شیان | 243000 | 0.1% |
| 721 | مجموعه | 196370435 | 100% |
| دویمه برخه | د هغو کورنیو د عایداتو سرچینې چې کوکنار نه کري | | |
| | د عایداتو سرچینې | د کلني عاید اندازه په افغانیو | سلنه |
| د کورنیو شمیر | د مشروع نباتاتو، میوه، ګلان( په شمول د محصولاتو بوس) | 95858376 | 53% |
| | د کرنیزو کارونو روزمره مزدوري | 17971400 | 10% |
| | مالداري او دهغه تولیدات لکه؛ هګی او شیدي | 17220064 | 9% |
| | د بهر څخه د پیسو رالیږل | 15631000 | 8.6% |
| | غیر له کرنیزو کارونو څخه روزمره مزدوري | 10470900 | 6% |
| | وړکی تجارت یا د محصولاتو پلور | 9512500 | 5% |
| | معاش لرونکي دندي | 6642600 | 4% |
| | د ځنګلاتو د تولیداتو خرڅلاو | 3018100 | 2% |
| | د کور او نورو توکو لکه؛ موټر په کرایه ورکول | 2100850 | 1.2% |
| | د چرسو خرڅلاو | 2074500 | 1.1% |
| | نور شیان | 1487600 | 0.8% |
| 1759 | مجموعه | 181987890 | 100% |

دا لاندې پایلې په پورته جدول کې شامل شوي معلوماتو څخه تر لاسه شوې:

څرنګه چې د کوکنارو د کرلو د کورنیو د عاید تر ټولو مهمه برخه د تریاکو، د تریاکو د تخمونو او د تریاکو په تیلو پورې تړلې ده. همدارنګه، د هغو کورنیو عاید چې کوکنار نه کري، په مشروع بوټو، میوؤ او ګلونو پورې تړلې ده.

یا په بل عبارت؛ د کوکنارو او چرسو د کروندګرو ۶۷٪ عاید له تریاکو او چرسو او د دې ترڅنګ ۳۳٪ عاید یې له مشروع نباتاتو څخه دی. په داسې حال کې چې د دویمې کټګورۍ د کروندګرو ۷۲٪ عاید د مشروع محصولاتو پلور او پاتې ۲۸٪ یې له نورو برخو څخه جوړ دي.

## ۸ جدول: په هیواد کې د کلیوالو کورنیو د سړي سر اوسط عاید

| د کورنیو د اوسط عوایدو اندازه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لومړۍ برخه | د هغو کورنیو اوسط عواید چې کوکنار کري | | | |
| د وخت شاخص | په یوه کال کې | په یوه میاشت کې | په یوه ورځ کې | د یو نفر ورځنۍ عاید |
| **نتایج** | **272358** | **22697** | **757** | **151** |
| دویمه برخه | د هغو کورنیو اوسط عواید چې کوکنار نه کري | | | |
| د وخت شاخص | په یوه کال کې | په یوه میاشت کې | په یوه ورځ کې | د یو نفر ورځنۍ عاید |
| **نتایج** | **105299** | **8775** | **292** | **58** |

د سړي سرعاید له نظره؛ هغه کروندګر چې کوکنار کري دسړي سر عاید یې د هغو کروندګرو په پرتله چې کوکنار نه کري، زیات دي. د لومړۍ برخې د کروندګرو د سړي سر عاید په ورځ کې ۱۵۱ افغانۍ دی، په داسې حال کې چې د دویمې برخې کروندګرو د سړي سر عاید د ورځې ۵۸ افغانۍ دي.

د یادولو وړ ده چې د سړي سر عاید په اندازه کولو کې د هرې کورنۍ د غړو شمیر ۵ کسان په پام کې نیول شوی. دا اټکل د افغانستان له کلیو څخه د راټول شویو معلوماتو څخه ترلاسه شوي، چې د دې سروې په پوښتنلیکونو کې یوه جلا پوښتنه وه.

## ۱۳ شکل: د کوکنارو او مشروع نباتاتو په کروندو کې د کارګرانو ورځنۍ معاش د یو او بل په پرتله




لکه څنګه چې د کوکنارو د کروندګرو د سړي سر عاید د هغو کروندګرو چې کوکنار یې ندي کرلي د سړي سر عاید څخه لوړ وو، همدارنګه د هغو کارګرانو مزدوري چې د کوکنارو په کرونده کې کار کوي ( د کوکنارو په کرلو او د حاصلاتو راټولولو) د هغه کارګرانو مزدوري څخه چې د مشروع نباتاتو په کرونده کې کار کوي زیاتوالی ښیې چې په پورته شکل کې ښودل شوي دي.

**زموږ د څیړنې له مخې، ترڅو چې د کوکنارو د کروندګرو دغه لوړ عاید پر هغو کروندګرو چې مشروع نباتات کري موجود وي، خلک به په اسانۍ سره د کوکنارو کرلو ته مخه وکړي. څکه چې د هغو کورنیو د سړي سر عاید چې کوکنار کري د هغو کورنیو د سړي سر عاید نږدې دری چنده دی چې کوکنار نه کري. همدارنګه، د کوکنارو د کروندو کارګرانو ته د ورځنیو معاشونو د زیاتوالي له امله ډیری خلک د دې پر ځای چې د مشروع کښت په کروندو کې کار وکړي په خپله خوښه د کوکنارو په کروندو کې کار کوي.**

## ٢-٤ د یوه هکتار کوکنارو او غنمو حاصل د یو او بل په پرتله:

د کوکنارو او غنمو د یوه هکتار حاصلاتو د پرتله کولو په اړه د ساحوي معلوماتو پر اساس، لاندي ټکي ترلاسه شوي دي:

**لومړی ټکی:**

په هر زون کې د کوکنارو او غنمو د کښت پایلې د اړوند زونونو د اقلیم او خاورې شرایطو پورې اړه لري، په همدې توګه د هیواد په سویل زون کې له هر هکتار ځمکې څخه ۷۵ کېلوګرامه ، په مرکزی زون کې ۶۵ کېلوګرامه، په شمال ختیځ زون کې ۴۴ کېلوګرامه، په ختیځ زون کې ۴۱ کېلوګرامه، په شمال زون کې ۳۵ کېلو ګرامه او په لویدیځ زون کې ۲۰ کېلوګرامه تریاک ترلاسه کېږي. او د هیواد په کچه د تریاکو عمومي اوسط حاصل په هر هکتار کې ۴۶٫۷ کېلوګرامه دی.

**دوهم ټکی:**

څرګنده کېږي چې په افغانستان کې د کوکنارو د حاصلاتو سروې نه ده ترسره شوې، خو په دې موده کې د تیرو کلونو په پرتله د کروندګرو له خوا د اصلاح شویو تخمونو او بیلابیلو کېمیاوي سرې د کارولو له امله د کوکنارو د هر هکتار حاصلات زیات شوي دي. خو د تریاکو کیفیت د تیرو کلونو په پرتله ټیټ شوی دی. له همدې امله د تیر کلونو په پرتله د یو کېلوګرام هیرویینو د تولید لپاره زیات تریاکو ته اړتیا ده.

**دریم ټکی:**

که مور د کوکنارو د کښت د هر هکتار اوسط حاصل ثابت په پام کې ونیسو، د تریاکو د نرخ توپیر د کروندګرو په عاید کې بدلون رامنځته کوي. د یو کیلو ګرام تریاکو نرخ په ختیځ زون کې له ۴۵۰ ډالرو څخه په شمال ختیځ زون کې ۲۰۹ ډالرو ته د ځانګړو دلایلو له امله توپیر لري. له همدې امله؛ د ختیځ زون کروندګر د شمال ختیځ زون د کروندګرو په پرتله د خپلو کوکنارو له کښت څخه ډیر عاید ترلاسه کوي. په ورته ډول، د نورو زونونو تر منځ په نرخونو کې لوی توپیرونه شتون لري.


**څلورم ټکی:**

په بیلابیلو زونونو کې د کوکنارو او غنمو د کښت د هرهکتار د حاصلاتو تر منځ د پام وړ توپیر شتون لري، دا توپیرونه د کروندګرو په عاید کې د پام وړ بدلون راولي چې په پایله کې د کوکنارو کښت ته مخه کوي. له همدې امله د کوکنارو او غنمو د کښت تر منځ توپیر یواځینی لامل دی، چې د ځمکې خاوندان د غنمو پر ځای د کوکنارو کښت ته ترجیح ورکوي. دا توپیرونه په لاندې انځور کې په روښانه توګه لیدل کېدای شي.


## ۹ جدول: د یوه هکتار کوکنارو او غنمو د کښت اوسط حاصل د هیواد د مختلفو زونونو لخوا په کال ۱۴۰۲ هـ-ش کې

| په 1402 هجری لمریز کال کی د هیواد د مختلفو زونونو لخوا د غنمو او کوکنارو دکښت اوسط حاصل په هر هکتار کې | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| زون | د یو کیلو ګرام تازه تریاک اوسط بیه د بڼي په سر په امریکایي ډالرو | د یو کیلو ګرام غنمو اوسط بیه په امریکايي ډالرو | دیو هکتار کوکنارو کښت حاصل په کیلو ګرام | دیو هکتار غنمو کښت حاصل په کیلو ګرام | د یو هکتار کوکنارو د کښت عاید په افغانیو | د یو هکتار غنمو د کښت عاید په افغانیو |
| مرکز زون | 407 | 0.35 | 65 | 3150 | 1943998 | 93127 |
| سویل زون | 280 | 0.35 | 75 | 6650 | 1543061 | 196602 |
| ختیځ زون | 450 | 0.35 | 41 | 4550 | 1355355 | 134517 |
| شمال ختیځ زون | 209 | 0.35 | 44 | 4550 | 676291 | 135512 |
| شمال زون | 238 | 0.35 | 35 | 6650 | 612598 | 196602 |
| لویدیځ زون | 315 | 0.35 | 20 | 4340 | 462942 | 128309 |
| **اوسط** | **316** | **0.35** | **46.7** | **4982** | **1099041** | **147445** |

## ۱۴ شکل: د یو هکتار کوکنارو او غنمو حاصل د یو او بل په پرتله



## نقشه ۲: د هیواد د زونونو په کچه د کوکنارو او غنمو د کښت حاصلات او عواید په هر هکتار



## ۳-٤ مالداري:

د هیواد د کلیوالو کورنیو د عاید یوه سرچینه د کرنې ترڅنګ د کورنیو څارویو لکه غواګانو، پسونو او وزو پالنه ده چې د ټولو عایداتو ترڅنګ د هغو کروندګرو چې کوکنار نه کري اقتصاد یې ۹ سلنه او هغه کروندګر چې کوکنار کري ۴ سلنه اقتصاد یې په همدې برخې پورې تړلی دي.

د کورنۍ څارویو د ډولونو فیصدي چې د کورنیو لخوا ساتل کیږي په لاندې انځور کې ښودل شوې.

### ۱۵ شکل: د څارویو د برخې د ارقامو سلنه




په دې برخه کې، ۵۶٪ د پسونو او وزو نسل پالنه، ۳۳٪ د چرګانو فارمونه او ۱۱٪ د غواګانو پالنه ده. بې له شکه چې په دې برخې کې شاید د هیواد کلیوالې کورنۍ د وچکالۍ او یا هم د نفوسو د زیاتوالې او په ځړ ځایونو کې د استوګنې د کورنو د جوړولو له امله له ستونزو سره مخ شوي وي.

که په دې برخه کې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ محترم وزارت په مشرۍ د اړوندو بنسټونو له لارې د ځړ ځایونو په ساتنه کې تصمیم ونیول شي، دا به د مالدارۍ د ودې په برخه کې د افغانستان د کلیوالو کورنیو د اقتصاد په پیاوړتیا کې یو مثبت ګام وي.

**زموږ د تحلیل له مخې، د استوګنې کورونه باید په هغو سیمو کې جوړ شي چې د نباتاتو د ودې لپاره مناسب ځای نه وي. په بل عبارت، د استوګنې کورونه باید په داسې ځایونو کې جوړ شي چېرې چې د کرنې ساحې یا څړځایونه شتون نلري. که دې ټکي ته پام ونشي، د نفوسو په زیاتوالې او په کرنیز او څړځایونو کې د استوګنې د کورونو په جوړولو سره به د افغانستان د کرنې او مالدارۍ سکتور زیانمن شي.**

## وړاندیزونه:

د هیواد د کلیو کروندګرو د خپل ژوند د ښه کولو لپاره ټولیز ۱۸۰۶ وړاندېزونه وړاندې کړي دي، چې په کې د تخمونو، کېمیاوي سرې او حیواناتو واکسینونه شامل دي.

د دې ترڅنګ د ښوونځیو او مدرسو جوړول، د زعفرانو او هنګ کښت او اصلاح شویو تخمونو ویشل، د خلکو لپاره د کاري چاپېريال رامنځته کول، د بندونو او کانالونو جوړول، د څښاک اوبو لپاره د څاګانو کیندل، د کورونو، سړکونو او پلونو جوړول هغه اساسي وړاندېزونه دي چې کروندګرو حکومت ته وړاندې کړي دي.

## ۱۰ جدول: وړاندېزونه

| سلنه | د وړاندیزونو شمیر | د وړاندیزونو موضوع |
|---|---|---|
| 48% | 865 | باید زموږ سره د تخمونو، کېمیاوی سری او د حیواناتو واکسینونو په برخه کې مرستې وشی. |
| 14% | 249 | زموږ لپاره باید ښوونځي او مدرسی جوړی شی. |
| 13% | 230 | حکومت باید د زعفرانو او د هنګ د کښت کولو لپاره خلکو سره د اصلاح شویو تخمونو په برخه کې مرستې وکړي. |
| 8% | 147 | حکومت باید د خلکو لپاره د کار زمینه برابره کړي. |
| 6% | 100 | حکومت باید د بندونو او د کرنیزو اوبو د کانالونو په جوړولو، د څښاک د اوبو لپاره د څاګانو کېندل او د سړو خونو په جوړولو کې له موږ سره مرستې وکړي. |
| 5% | 87 | باید زموږ لپاره سړکونه او پلونه جوړ کړي. |
| 2.4% | 43 | باید زموږ لپاره کلینیک جوړ کړي. |
| 2.2% | 39 | نغدی مرستی دی پر خلکو وویشل شی. |
| 1.6% | 28 | حکومت باید د خلکو لپاره د برېښنا بندونه او استنادی دیوالونه جوړ کړي. |
| 1% | 17 | حکومت باید د کرنی د میکانیزم، د کرنیزو تخنیکي وسایلو په برخه کې له موږ سره مرستې وکړي. |
| 0.1% | 1 | حکومت باید د فابریکو په فعالولو سره خلکو ته د کار زمینه برابره کړي؛ د بیلګې په توګه د ګلبهار نساجی فابریکه. |
| **100%** | **1806** | **مجموعه** |

## (پایلې)

## د کوکنارو کښت:

- ✓ د نشه يي توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې د ادارې (UNODC) د ۱۴۰۱ هجری لمریز کال د نا تایبد شوي راپور په پرتله ۹۴ سلنه کموالی راغلی دي.

- ✓ په ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کې د کوکنارو د ټولو کښتونو څخه ۱۲۰۰۰ هکتاره ځمکه له منځه تللې، نو کروندګرو یوازې له ۲۷۱۲ هکتاره ځمکې څخه حاصلات راټول کړي دي. که د افغانستان د زونونو د اوسط تولید د ارقامو پر بنسټ له هر هکتار څخه ۴۶,۷ کیلوګرامه تریاک ترلاسه شی، نو د تریاکو تولید ۱۲۶,۷ متریک ټنه کېږی، چې د ۱۴۰۲ هجری لمریز کال تر عقرب میاشتي پوري د اپینو د اوسط قیمتونو پر بنسټ چې ۳۷۵ ډالر په یوه کیلوګرام دي چې ټولیز ارزښت یې (۴۷۴۹۳۹۰۰) امریکایې ډالره کېږي.

- ✓ همداراز مستند راپورونه هم شته چې د روان کال په لومړۍ او دویمه ربع کې د پولیسو له خوا ۳۱۷۰,۷ ټنه نشه يي توکي د افغانستان په سطح کشف او ضبط شوي دی له دي جملی څخه لسګونه ټنه تریاک او هغه نشه يي توکي چې له تریاکو څخه جوړیږی، د بیلګې په توګه: هیروین او شیشه شامل دي.

- ✓ سږ کال د تریاکو د تولید کچه د تیرو کلونو په پرتله ډیره کمه شوي ده لکه څنګه چې په ۲۰۱۷ میلادی کال کې په افغانستان کې د تریاکو تولید(۹۰۰۰) متریک ټنو ته رسېدلی، په دی حساب په ۱۴۰۲ کال کې د تریاکو تولید (۹۸,۶٪) کموالی ښيي.

- ✓ د کوکنارو د کښت لومړی لامل چې زیات یادیږي، دا دي چې کروندګر د زیاتو ګټو د ترلاسه کولو په موخه کوکنارو ته مخه کوي. دوهم لامل يې د بی وزلۍ او سختیو له امله دي چې کروندګر د خپلو کورنیو د لومړنیو اړتیاؤ د پوره کولو په موخه د کوکنارو تخم کري. کروندګر د تریاکو د عاید ۹۵ سلنه د خپلو لومړنیو اړتیاؤ د پوره کولو لپاره لکه (خواړه، روغتیایي لګښتونه، تعلیمی لګښتونه او د پورونو ادا کول) کاروي.

- ✓ د کوکنارو د نه کرلو لامل تر ډیره د اسلامي شریعت د احکامو مراعات او د امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم اطاعت دي. دغه راز د کوکنارو ټولنیز زیان، د اوبو او ځمکې نشتوالي هغه نور لاملونه دي چې له امله يې کروندګرو د کوکنارو کرلو څخه مخه کړي.

- ✓ ۷۱ سلنه خلکو د نشه يي توکو د زیانونو په اړه د پوهاوي د پروګرامونو پلې کول یاد کړي او په دې برخه کې تر ټولو مهم رول د جوماتونو ملا امامانو ادا کړی دی.

## په نشه يي توکو روږدي:

- ✓ په نشه يي توکو د روږدي کسانو په منځ کې د چرس استعمالوونکي د جدول په سر کې دي، چې دا ارقام د پولیسو له کړنو څخه د خلکو د رضایت په اړه د یوی سروې پایلی چې په ۱۴۰۱ هجری لمریز کال کې په کابل کې ترسره شوي وه

هم تاييدوي. همدارنګه په نشه يي توکو روږدي کسان په ورته وخت کې څو ډوله نشه يي توکي کاروي. په ورته ډول، د مخدره توکو ټابليټونو استعمال د روږدي کسانو په منځ کې خپل کاروونکي لري.

- ✓ په نشه يي توکو د روږدو کسانو روغتيايي وضعيت تر ډيره ښه او اوسط بيان شوي دي، او يو څه شمير( ۵ سلنه) له خپلو کورنيو څخه د ناوړه روغتيايي حالت سره وخت تيروي.

- ✓ نشه يي توکو ته د آسانه لاسرسي ترڅنګ، بد ملګري، بيکاري د يوې ټولنيزې ستونزې په توګه د ټولنيزو انحرافاتو او په ځانګړې توګه د روږديتوب بنسټ جوړوي. نور عوامل د بيلګې په توګه؛ بې وزلي، ذهني او رواني اختلالات، پر ځان بې اعتمادي، بې کفايتي، د شخصيت نيمګړتياوې، انديښنې او ناکامي دا عوامل په ګډه سره د اعتياد سبب کېدلای شي.

- ✓ په کورني چاپيريال کې نفاق او بې اتفاقي، د مور او پلار د سواد ټيټه کچه، يتيمې کورنۍ، د خود غرضو يا غفلت کوونکو والدينو د تعليمي ميتودونو په اړه د پوهاوي نشتوالی او د مور او پلار ترمنځ د دوستانه او صادقانه اړيکو نشتوالي هغه عوامل دي چې د روږديتوب لامل ګرځي.

## ټولنيز مسايل:

- ✓ د ترلاسه شوو ارقامو له مخې د هيواد د کليو اکثريت اوسيدونکي د ورورولۍ او اتفاق سره ژوند کوي او نږدې ټولو خلکو له شته امنيتی وضعيت څخه خوښي څرګنده کړې ده.

- ✓ خو له بده مرغه د کليو ۳۴ سلنه اوسيدونکي بې وزله دي او هغه ځوانان چې له کليو وتلي هم د بيوزلۍ ژورې ريښې لري.
- ✓ په ټوليزه ډول د کليو د وګړو ۲ سلنه کونډې او ۵ سلنه يتيمان دي.
- ✓ روغتيايي مرکزونه ۲۵ سلنه کليو کې فعال دي.
- ✓ په ټولنه کې زيات شمير ماشومان ښوونځيو او مدرسو ته لاسرسی نه لري.

## اقتصادي مسايل:

- ✓ د کوکنارو د کښت د خيشاوي په برخه کې د ورځي اوسط مزدوري ۴۱۴ افغانۍ، د کوکنارو د نيش وهلو او ټولولو په برخه کې ۵۰۱ افغانۍ ده.

- ✓ له کوکنارو پرته د کرنې په برخه کې د ورځي اوسط مزدوري ۳۶۳ افغانۍ او په غير زراعتي برخه کې ( د سړکونو جوړول) ۳۸۹ افغانۍ دي. ښايي چې د کوکنارو د برخي ورځنۍ مزدوري د مشروع برخي نباتاتو د مزدورانو په پرتله خورا لوړ وي، دا مسله به خلک بيا د کوکنارو کښت ته وهڅوي.

- ✓ له بلې خوا، د هغو کورنيو د سړي سر عايد چې کوکنار کري، د هغو کورنيو د سړي سرعايد په پرتله چې کوکنار نه کري، لوړ دي، په دې معنی چې د کروندګرو د لومړۍ کټګورۍ د کورنۍ د غړو د هر کس عايد ۱۵۱ افغانۍ او د دويمې کټګورۍ د کورنۍ د غړو دهر کس عايد ۵۸ افغانۍ دي.

- ✓ له کروندګرو سره د اقتصادي مرستو په برخه کې یوازې ۲۴ سلنه شمیرې ښيئ چې کروندګر له دې مرستو برخمن شوي، نو دا شمیره کافی نه ده.

- ✓ د هغو پرتله کولو سریېره چې د کوکنارو او غنمو د کرنې د هر هکتار حاصلاتو او عاید له مخې رامینځته شوي، د غنمو او کوکنارو د حاصلاتو ترمنځ لوي توپیر شتون لری، نو د کوکنارو د کښت د هرهکتار اوسط عاید د غنمو د کښت د هر هکتار اوسط عاید ۷,۵ ځله ډیر دي. په حقیقت کې دا یو بل لامل د ي چې کروندګر د غنمو پر ځاي د کوکنارو کښت ته ترجیح ورکوي.

- ✓ د کرنیزو کارونو تر څنګ د افغانستان د کلیو کروندګر د څارویو په پاللو هم بوخت دي، چې د کورنیو د لومړنیو اړتیاؤ یوه برخه ده. باید یادونه وشی چې د هغو کروندګرو اقتصاد چې کوکنار نه کري، د هغو کروندګرو په پرتله چې کوکنار کري اقتصاد یې  په مالداري او دهغې په محصولاتو پوري تړلي دي.

# د افغانستان اسلامي امارت
# د کورنیو چارو وزارت
# د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې معینیت
# ملکي معاونیت
# د نشه يي توکو د سروې او تحلیل ریاست



